


ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اباديي اوونيزه

هفته نامه آبادی

ګڼه: ۱۴ | مسلسل نمبر: ۱۰۴

سه شنبه، د محرم الحرام ۱۲مه، ۱۴۴۷هـ.ق کال


## اذربايجان هېواد ته د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د شپږ ورځني سفر بشپړ راپور



۲ صفحه

## په بلخ ولايت کې د پنځه پوړيز سوداګريز مارکېټ جوړولو طرحه د تاييد وړ وبلل شوه



۵ مه صفحه

## د لاجوردو تاريخي لار ؛ د فعاليت نوې هڅې او د افغانستان له پاره يې اقتصادي ګټې




٦مه صفحه

# سرليکنه



د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند پـه مشرۍ د اسلامي امارت لوړپوړي پلاوي د روان۱۴۰۴ لمريز کال د سرطان په لسـمه نېټه د اقتصادي همکاريو سازمان (ايکو) په اوولسمه غونډه کې د ګډون په موخه د اذربايجان جمهوريت په رسـمي بلنه دغه هېواد ته سـفر وکړ. په دې سـفر کې د رياسـت الوزراء اقتصادي مرسـتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخونـد د اقتصادي همکاريو سـازمان(ايکو) په اوولسمه عمومي غونډه کې د ګـډون او وينـا ترڅنـګ د ازبيکسـتان له ولسـمشر، د اذربايجـان لومړي وزيـر، د ترکمنسـتان د لومړي وزير مرسـتيال او بهرنيو چارو وزير او  د قزاقستان لومړي وزير سره وکتل. دغه راز د رياسـت الوزراء اقتصادي مرستيال د اذربايجـان د باکو له بحري بندر څخـه هم ليدنه وکړه.  د اقتصادي همکاريو سـازمان(ايکو) اوولسمه غونډه چې د اذربايجـان په خنکندي ښـار کې جوړه شـوې وه، د غړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي اړيکو د پراختيا، سـوداګرۍ د ودې، اقليمي بدلونونو، بيانوې کېدونکې انرژۍ او ځينو نورو موضوعاتـو  په اړه خبرې وشـوې. له افغانسـتان څخه د رياسـت الوزراء اقتصادي مرسـتيال محترم ملا عبدالغني بـرادر اخوند د ايکو سـازمان په اوولسـمه سرمشريزه کې ګډون کړی و. په رسـمي ډول دايکو سازمان په غونډه کې ګډون له يوه لوري په نړيوال ستيج د اسلامي امارت موقف په ډاګـه کړ او له بل لوري دا ګډون د هغه چا پر مخ کلکه څپېـړه وه چې وايي اسلامي امارت نړيـوال مشروعيت نه لري. د ايکو سازمان په عمومي غونډه کې د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال په خپلو خبرو کې په افغانستان کې رامنځته شـويو اقتصادي پرمختګونو، په دې هېواد کې د پانګونې له پاره شته فرصتونو، د افغانستان له لارې د سيمه ييزو مهمـو اقتصادي پروژو تطبيق او بشـپړولو او اقليمي بدلونونو موضوع ته اشـاره وکـړه.  دا هغه څه دي چې په عملي کېـدو سره به يې په اقتصادي لحاظ د افغانسـتان پرمختګ ته لاره هواره او دغه راز کوم زيانونه چې د اقليمي بدلونونو له امله افغانسـتان ته اوړي، د اقليمي بدلونونو پر وړاندې د مبارزې له لارې به دغه ستونزې تر ډېره بريده له منځه ولاړې شي.   د اقتصادي همکاريو سـازمان(ايکو) د اوولسـمه سرمشريـزې په څنډه کـې د رياسـت الوزراء اقتصادي مرسـتيال د منځنۍ اسـيا هېوادونو د حکومتي لوړپوړو چارواکو په ليدنو کتنو کې ټول بحث او خبرې د دوه اړخيـزو اقتصـادي اړيکـو د پراختيا ترڅنـګ د کانونو، ترانسـپورټ، ترانزيټ، خدمتونو، برېښنا، بنسټيزو پروژو، د مزارشريف – هرات – کندهار اوسپني پټلۍ پروژه، د نساجي فابريکو جوړولو، د سيمنټو توليد، د تيلو د تصفيې کارخونو، د مالګـې کانونـو اسـتخراج او پروسـس، الکترونيکي حکومتولۍ، سترو سـوداګريزو لارو لکـه لاجوردو دهليز د فعالېدو او په بېلا بېلو برخو کې د منځنۍ اسـيا هېوادونو د پانګونې په جلب او جذب ور ټولې وې. اسلامي امارت هڅه کوي چې ايکو سـازمان غړو هېوادونو په ټوله کې د سيمې هېوادونو څخه د هېـواد د اقتصادي پرمختګ په برخه کې همـکارۍ ترلاسـه او وکـولای شي، د هېـواد زيربناوې ورغوي، سوداګري پراخه او ترانزيټ له پاره لار هواره کړي. دا ټولې هغه برخې دي چې پرمټ يې د دې امکان شته چې افغانستان په اقتصادي لحاظ پر خپلو پښو ودرېږي.

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـــادي او تـــولنيزو مسايلـــو په برخـــه کـــې
د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونيزه
ابادي
هفته‌نامـه آبـادی



# اذربايجـــــان هيـــواد تـــه
## د رياســــت الوزراء اقتصـــادي مرستيـــال محتــــرم ملا عبدالغنـــــي برادر اخـــوند
# د شپږ ورځني سفر بشپړ راپور



د افغانستان اسلامي امارت د رياست‌الوزراء اقتصادي مرســـتيال محترم ملا عبدالغني بـــرادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د سرطان مياشتې په لسمه نېټه د سه شـــنبې په ورځ له غړمي مخکې د اقتصادي همکارۍ ســـازمان (ايکو) په ۱۷مه سرمشريزه کې د ګډون په موخه د اذربايجان هېواد په رســـمي بلنه ياد هيواد ته ولاړ. محترم ملا صاحب د همدې ورځې ماذيګر مهال د اذربايجان هېواد باکو ښار ته ورسېد او د حيدر علي ييف په نړيـــوال هوايـــي ډګر کې يـــې اذربايجاني مسوولينو تودهرکلی وکړ.





د سرطان مياشتې په يوولســـمه نېټه چهارشنبې ورځ محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د اذربايجان هېواد له لومړي وزير ښـــاغلي علي اســـدوف سره وکتل. محترم ملا صاحب پـــه لومړي سر کې له اذربايجان جمهوريت مننه وکړه چې د افغانستان اسلامي امارت پلاوي ته يې د ايکو سازمان په ۱۷مه سرمشريزه کې د ګډون رســـمي بلنه ورکړه او د دوی يې تود هرکلی وکړ. محترم ملا صاحب په افغانستان کې د نفت او ګازو د اســـتخراج او پروسس، اوســـپنې پټلۍ شبکو پراختيا، د لمريزې او بادي بريښـــنا توليد په برخو کې د اذربايجـــان د پانګونې غوښـــتنه وکـــړه او د دوه اړخيزې ســـوداګرۍ د پراختيا په موخه يې د لاجوردو لارې پر فعالېدو هم ټينګار وکړ.

د اذربايجان لومړي وزير وويل، هېواد يې لېواله دی، له افغانســـتان سره د ايکو سازمان او هم د دوه‌اړخيزو او درې‌اړخيزو همکاريو له لارې، په بېلابېلو برخو کې اړيکې پراخې او په افغانستان کې پانګونه وکړي. هغه وويل، د لاجوردو لارې د فعالېدو په اړه د شوو پرېکړو د تطبيق او په دې برخه کې د همکاريو او اســـانتياوو رامنځته کولو لپاره هڅې کوي.

ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او تولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
اباديٍ

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د سرطان میاشې په دوولسمه نېټه پنجشنبې ورځ د اذربایجان هېواد له باکو ښار څخه پوزولي ښار ته ورسېد او هلته له رسېدو وروسته د ایکو سازمان په عمومي غونډه کې د ګډون په موخه د دغه هېواد خنکندي ښار ته لاړ.

محترم ملا صاحب په خنکندي ښار کې د سرطان میاشتې په دوولسمه نېټه د ازبېکستان له ولسمشر ښاغلي شوکت میرضیایف سره وکتل. د دې لیدنې پرمهال د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال له ازبېکستان جمهوریت مننه وکړه چې په نړیوال ستېج یې د افغانستان ملاتړ کړی او نړیوالو ته یې د افغانستان ربښتینی انځور وړاندې کړی دی. محترم ملا صاحب د دواړو هېوادونو د اړیکو نیک او مثبت شالید ته په کتو وویل، اړتیا ده چې تر دربیو میلیاردو ډالرو پورې د سوداګرۍ کچې رسېدو په موخه کابل او تاشکند د کانونو، ترانسپورټ، ترانزیټ، خدمتونو، برېښنا او بنسټیزو پروژو په برخه کې ګډ کار وکړي.

د ازبېکستان ولسمشر د خپلو خبرو پرمهال وویل، هېواد یې په افغانستان کې د مزارشریف – هرات – کندهار اوسپني پټلۍ پروژه، د نساجي فابریکو جوړولو، د سیمنټو تولید، د تیلو د تصفیې کارخونو، د مالګې کانونو استخراج او پروسس، الکترونیکي حکومتولی او نورو سکتورونو کې پانګونې ته چمتووالی لري. نوموړي همداراز وویل چمتو دي چې افغانستان ته برېښنا اندازه زیاته او د ازبېکستان له لارې د منځنۍ اسیا او روسیې بازارونو ته د افغاني توکو د صادراتو په برخه کې سهولتونه برابر کړي.



محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سرطان میاشتې په دوولسمه نېټه د اذربایجان په خنکندي ښار کې د ترکمنستان د لومړي وزیر مرستیال او د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي رشید مرادوف سره هم وکتل. د دې لیدنې پرمهال د دواړو لورو ترمنځ د سیاسي اړیکو د کچې پر لوړوالي، د دوه اړخیزې سوداګرۍ او ترانزیټ پر پراختیا، د ټاپي او ټاپ پروژو پر کاري پرمختګونو او همداراز د کابل او عشق اباد ترمنځ د کرښې، کانونو، ترانسپورټ، زېربنا او بنسټیزو پروژو د پیل او مدیریت په اړه پر ګډ کار کولو بحث او د چارو بـه پرمخ بیولو باندې ټینګار وشو.

د سرطان میاشتې په ۱۳مه نېټه د اذربایجان هېواد په خنکندي ښار د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند قزاقستان له لومړي وزیر سره وکتل. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند قزاقستان د افغانستان لپاره مهم او د باور وړ سیمه‌ییز شریک هېواد وباله او د افغانستان لپاره یې د دغه هېواد له لوري د ځانګړي استازي ټاکل کېدل غوره ګام یاد کړ. هغه له قزاقستان جمهوریت مننه وکړه چې په نړیوالو ستېجونو یې له افغانستان څخه ملاتړ کړی.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د دواړو هېوادونو ترمنځ د ترانزیټ، دري میلیارد ډالرو ته د سوداګرۍ کچې لوړېدو، بانکي همکاریو، افغانانو ته د ویزو ورکړې او د اوسپني پټلۍ له لارې د صادراتو او وارداتو پر زیاتوالي ټینګار وکړ.

د قزاقستان لومړي وزیر له افغانستان سره د قزاقستان اړیکې مثبتې او پرمختللې وبللې او ویې ویل، د دې اړیکو د لا پراختیا په موخه به په نږدې وخت کې د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزیر کابل ته سفر وکړي. هغه همداراز په افغانستان کې د تورغونډۍ – هرات اوسپنې پټلۍ پروژه کې د ۵۰۰ میلیون ډالرو په ارزښت پانګونې لپاره چمتووالی وښود او پردې سربېره له افغانستان څخه د میوو او کرنیزو محصولاتو د وارداتو کچې زیاتوالي ته چمتو دي.

د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سرطان میاشتې په ۱۳مه نېټه د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان اسلامي امارت او افغان ولس په استازیتوب د اقتصادي همکاریو سازمان د غړو هېوادونو د مشرانو په اوولسمه سرمشریزه کې ګډون او وینا وکړه. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د ایکو سازمان اوولسمي عمومي غونډې ته د خپلو خبرو پرمهال د روسیې فدراسیون له لوري د اسلامي امارت په رسمیت پېژندلو هرکلی وکړ او د ایکو سازمان له غړو هېوادونو یې وغوښتل چې دوی هم د روسیې فدراسیون په څېر د افغانستان مشروع سیاسي واقعیت درک کړي او د اسلامي امارت د رسمیت پېژندنې په لور عملي او مثبت ګامونه واخلي.




د ریاســـت‌الوزراء اقتصادي مرســـتیال د افغانســـتان اسلامي امارت د اقتصاد محوره بهرني سیاســـت، په افغانستان کې د شوو اقتصادي پرمختګونو، د پانګونې لپـــاره د موجودو فرصتونو او همداراز د افغانســـتان له لارې د ســـیمه‌ییزو مهمو اقتصادي پروژو د تطبیق او بشپړولو لپاره د برابرو شوو فرصتونو په اړه خبري وکړې.

مـــحترم ملا صاحب د ایکو ســـازمان له غړو هېوادونو وغوښتل چې له یوه باثباته، باوري او همکار افغانستان سره د اقتصادي او سیمه‌ییزو همکاریو د پیاوړتیا لپاره د دوامـــداره پرمختګ او همغږی فضا جوړېدو ترڅنګ د ســـوداګرۍ، پانګونې، انرژۍ، ترانســـپورټ، کرنې، چاپیریال ســـاتنې او اقلیمي بدلونونـــو په برخو کې له نېږدې کار وکړي، چې افغانستان په یادو برخو کې له خپل لوري بشپړ چمتووالی لري. هغه زیاته کړه: «موږ باور لرو چې د ایکو سازمان غړو هېوادونو اقتصاد هغه وخت ښـــه وده کولی شي چې افغانســـتان هم د دې معادلې متحرکه برخه وګرځي.» محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ایکو سازمان په اوولسمه سرمشریزه کې له مظلومو فلسطینیانو سره د افغانستان اسلامي امارت خواخوږي یوځل بیا څرګنـــده کړه او ویې ویل: «هغه ظلم چې د غزې په مظلوم ولس کېږي، باید ژر تر ژره پای ته ورســـبږي. موږ د فلســـطین د ازادۍ او د بیت المقدس د اسلامي هویت د خوندي ســـاتلو پوره ملاتړ کوو.» د ریاست‌الوزرا اقتصادي مرستیال د خپلو خبرو پرمهال وړاندیز وکړ چې د اقتصادي همکاریو سازمان راتلونکې اتلسمه سرمشریزه دې په کابل کې ترسره شي. د دغه پـــه خبره، اسلامي امارت د دې سترې او ارزښتناکې ناســـتې د کوربه‌توب لپاره بشپړ چمتووالی لـــري او د ټولو ګډونوالـــو تود هرکلی کـــوي. د ایکو ســـازمان په اوولســـمه سرمشریزه کې د غړو هېوادونو ولســـمشرانو، لومړي وزیرانو او لوړپوړو چارواکو حضور درلود، چې د دغه سازمان د غړو هېوادونو ترمنځ یې د سیاسي، اقتصادي، سوداګریزو، ترانزیتي، ترانسپورټي او کلتوري اړیکو، سیمه‌ییز اتصال او پانګونې په اړه د پوره همکارۍ او همغږۍ پر رامنځته کولو ټینګار وکړ.

د سرطان میاشـــتې په ۱۴مـــه نېټه د ریاســـت‌الوزراء اقتصادي مرســـتیال له باکو نړیـــوال بحري بندر څخه لیدنه وکړه. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د دغه بندر امکانـــات او د انتقالاتو بهیر له نږدې ولیدل او له اذربایجاني مســـوولینو یې وغوښتل چې له دې لارې د افغانستان صادراتو ته اسانتیاوې برابرې کړي. د دغه لیدنـــې پرمهال چـــې د باکو نړیوال بحـــري بندر او د اوسپنې پټلۍ مسوولینو هم حضور درلود، دوی وویل، د دغه بندر له لارې چې د لاجوردو دهلیز په مســـیر کې موقعیت لري، ترکیې او اروپا ته د افغانستان د صنعتي تولیداتو، کرنیزو محصولاتـــو او کاني توکو صادراتو ته چمتو دي. دوی همداراز د اوســـپنې پټلۍ په واسطه د ایران له لارې روسیې ته هم د افغانستان د سوداګریزو توکو انتقالاتو ته چمتووالی وښود. د دې لیدنې پرمهال دواړو لورو ګډې تخنیکي کمېټې وټاکلې، څو د دغه بندر له لارې د ګډې سوداګرۍ او ترانزیټ د رامنځته کېدو په موخه موجود امکانات او ترانسپورټي لارې و ارزوي او د افغانستان صادراتو ته اسانتیاوې رامنځته کړي.



د ریاســـت‌الوزراء اقتصـــادي مرســـتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند اذربایجان هېواد ته له رســـمي شـــپږ ورځنۍ سفر ورســـته د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سرطان میاشـــتې په ۱۵مه نېټه د یکشنبې ورځ سهار بېرته کابل ته راستون شو.

# په بلخ ولایت کې د پنځه پوړیز سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحه د تایید وړ وبلل شوه

د پانګونــې بین‌الــوزارتي کمېټــې نوبتــي غونډه ترسره شــوه. دغه غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د سرطان میاشــتې په نهمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ جوړه شوې وه. غونډې ته له اجنډا سره سم د بلخ ولایت په مزارشریف ښــار کې د مالیې وزارت پر ځمکــه د پنځه پوړیز ســوداګریز مارکېټ جوړولو طرحه د بحث لپاره وړاندې شوه، چې له هراړخیز بحث وروســته د تایید وړ وبلل شــوه. همدارنګه دې غونډې ته په ننګرهار او خوســت ولایتونو کې د ښــاروالیو پر ځمکــو د ســوداګریزو مارکېټونو جوړولو طرحې هم د بحث لپاره وړاندې شوې. له بحث وروســته ټــاکل شــوې کمېټې تــه دنده وسپارل شــوه څو د یادو طرحو تخنیکي او مالي اړخونــه و ارزوي او راپور یې پــه ټاکلي وخت د پانګونــې بین‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي



# هر شرکت د تیر (TIR) کنوانسیون د اصولو پر بنسټ افغانستان د تیر (TIR) عملیې د پیل او پای هېواد په توګه ټاکلی شي

د اقتصادي کمېســیون د تخنیکــي کمېټې نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شــوه. غونډې ته له اجنډا سره ســم د هېواد پــه ګمرکونو کې د تیر (TIR) عملیې د پیل او پــای ټاکلو موضوع د بحث لپاره وړاندې شــوه. له هراړخیز بحث وروسته نظر ورکړل شو، چې د تیر (TIR) کنوانسیون د اصولو پر بنسټ هر شرکت چې وغواړي افغانستان خپل د تیر (TIR) عملیې د پیــل هېواد ټاکلی شي او د ګمرک له لــوري یې د بار تــر تشریح او قانوني پروســې وروســته له افغانستان څخه د تیر (TIR) عملیه پیل شي. دغــه نظر د نهایــي تصمیم نیونــې په موخه اقتصادي کمېسیون ته راجع شو.



ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
اوونیزه ابادي
هفته نامه آبادی




# د لاجوردو تاریخي لار؛ د فعالیت نوې هڅې او د افغانستان له پاره یې اقتصادي ګټې

زاهد خان

## سریزه

افغانستان په خپل تاریخ کې یو مهال د نړۍ د لویو تمدنونو او سوداګریزو مرکزونو ترمنځ د نښلوونکي پُل حیثیت درلود. د دغه هېواد جغرافیوي موقعیت د دې لامل شوی و چې د سویلي اسیا، منځنۍ اسیا، منځني ختیځ، چین او اروپا ترمنځ د سوداګرۍ د یوې څلور لارې په توګه رول ولوبوي. د لرغوني افغانستان له لارې به بېلابېل سوداګریز مالونه له یو ځایه بل ځای ته انتقالېدل. که له یوې خوا به د هند مصالحې او پنبه وه، نو له بلې خوا به د چین ورېښم و او ترڅنګ به یې د افغانستان لاجورد و چې له یوه ځایه به بل ځای ته لېږدول کېدل.

شواهد ښیي چې له میلاد څخه شاوخوا څلور زره کاله وړاندې د افغانستان لاجورد مصر، بین النهرین او یو شمېر اروپایي هېوادونو ته صادر شوي دي. وروسته چې په دویمه قبل المیلاد پېړۍ کې د ورېښمو لویه لاره رامنځته شوه، نو د لاجوردو لاره هم په کې مدغم شوه او یاده لاره په عمومي ډول د ورېښمو لارې په نوم یاده شوه. د ورېښمو لاره ډېره موده فعاله وه، خو وروسته د بېلابېلو لاملونو له امله له فعالیته ولوېده. مګر د لاجوردو له لارې وخت نا وخت سوداګري کېده. وروستیو کلونو کې د لاجوردو لارې پر سر د ښکېلو هېوادونو ترمنځ هوکړه لاسلیک شوه او په ۲۰۱۸ کال کې له لاجوردو لارې (لاجوردو دهلېز) څخه لومړني توکي له افغانستان څخه اروپا ته صادر شول.

## د لاجوردو لارې لنډه تاریخچه

د لاجوردو دهلیز د افغانستان د هرات ولایت له تورغونډۍ او فاریاب ولایت له اقینې بندر څخه پیلېږي او ترکمنستان، اذربایجان، ګرجستان، ترکیې او اروپا ته رسېږي. د لاجوردو پر دهلیز توکي د ځمکې او اوبو له لارې لېږدول کېږي. داسې چې له افغانستان څخه د ترکمنستان له لارې تر کسپین بحیرې (خزر سمندرګي) پورې د ځمکې لاره، بیا کسپین بحیره کې تر اذربایجان پورې د بېړیو لاره، بیا په اذربایجان او ګرجستان کې د ځمکې لاره او بیا په تور سمندرګي کې تر ترکیې پورې د بېړیو لاره ده.

په ۲۰۱۲ کال کې د یاد دهلیز د فعالیت په سر د یوې هوکړې له پاره هڅې پیل شوې او بالاخره په ۲۰۱۷ کال کې د افغانستان، ترکمنستان، اذربایجان، ګرجستان او ترکیې د مسوولینو ترمنځ هوکړه لاسلیک شوه. د دې هوکړې موخې د یادو هېوادونو ترمنځ اتصال او سوداګرۍ ته پراختیا ورکول وو. په ۲۰۱۸ کال کې د لاجوردو له دغه دهلیز څخه لومړني توکي ترکیې ته صادر شول. په توکو کې د افغانستان پنبه، وړۍ، ممیز، هندوانې او نور شامل وو. راتلونکي کال کې هرات ته د همدې دهلیز له لارې بهرني توکي راورسېدل چې د هرات د خلکو له لورې یې تود هرکلی وشو. خو دغه لاره د یو شمېر ستونزو او ننګونو له امله په بشپړ ډول فعاله نه شوه.

د ویزې، ګمرکي همکاریو، ټکس او تعرفو او یو شمېر نورو ستونزو د حل په موخه په ۲۰۱۸ او ۲۰۱۹ کلونو کې څو ځلې د ښکېلو هېوادونو د مسوولینو ترمنځ ناستې وشوې. د افغانستان اسلامي امارت له راتګ وروسته هم د دغه دهلیز د فعال ساتلو په موخه ناستې وشوې. وروستۍ ناسته د ۲۰۲۴ کال د اکتوبر په دریمه نېټه د ترکیې په استانبول کې وشوه او مهمې پرېکړې په کې وشوې.

## د استانبول غونډې پرېکړې

د ۲۰۲۴ کال په اکتوبر میاشت کې د ترکیې په استانبول کې د لاجوردو لارې ښکېلو هېوادونو د مسوولینو ترمنځ ناسته ترسره شوه. ګډونوالو د اقتصادي پراختیا او سیمه ییزې همکارۍ کې د لاجوردو لارې ارزښت تایید کړ. په ناسته کې ځینې مهمې پرېکړې وشوې چې په لاندې ډول دي:

۱- ګډونوالو ژمنه وکړه چې دا لاره باید خوندي، دوامداره او له خنډونو خالي وي، څو سوداګرۍ ته زمینه برابره شي.

۲- ګډونوالو ټینګار وکړ چې اړین حقوقي سندونه، مقررات او توافقات باید اصلاح شي، څو د لاجوردو لارې ترون پلی شي.

۳- ګډونوالو ټینګار وکړ چې باید د ترانسپورټ ستونزې لرې شي او له نړیوالې ترانسپورټي شبکې سره د لارې یوځای کول باوري شي.

۴- ګډونوالو د خپلو هېوادونو خصوصي سکټورونه وهڅول چې د لاجوردو لارې له فرصتونو ګټه واخلي او د صادراتو او طبیعي زېرمو انتقال ته لاره هواره کړي.

۵- ګډونوالو ژمنه وکړه چې د لارې په اوږدو کې به د ترانزیت له پاره یو واحد او همغږی چوکاټ رامنځته کوي، څو اداري بهیرونه کم او فعالیتونه چټک او مؤثر شي.

۶- ګډونوالو یادونه وکړه چې باید له نورو لېوالو هېوادونو سره سیمه ییزه همکاري پراخه شي.

۷- ګډونوالو ومنله چې سره له دې چې د سړکونو له پاره منظم مقررات نشته، خو د اوسني بنسټ له مخې د اورګاډي له لارې د مالونو انتقال شونی دی.

۸- ګډونوالو پرېکړه وکړه چې تخنیکي کارونو ته به دوام ورکړي، څو یو پراخ عملي پلان جوړ شي چې د همغږۍ،

همکارۍ او مؤثر ترانسپورټ لـه پاره کليــدي ګامونه مشخص کړي.

۹- ګډونوالــو ژمنه وکړه چې د ۲۰۱۷ کال د نومبر په ۱۵مه د عشــق‌اباد په غونډه کې لاسليک شوې هوکړه ژر تر ژره پلي کړي.

۱۰- تخنيکي ډلې بايد په کال کې لږ تر لږه دوه ځله غونډې وکړي او وزيران دې هم په کال کې يو ځل راټول شي، څو د لارې ستونزې وڅېړي او حل يې کړي.

۱۱- ګډونوالو پرېکړه وکړه چې د وزيرانو راتلونکې غونډه به په باکو کې ترسره کړي.

## افغانستان ته د لاجوردو دهليز اقتصادي ارزښت

افغانســتان له هغو هېوادونو څخه دی چې اوبو ته لاره نه لري او اوبو تــه د لاسرسي له پاره په نورو هېوادونو باندې متکي دی. د منځنۍ اســيا او له ګاونډيو هېوادونو پرته له نورو هېوادونو سره د ســوداګريزو اړيکــو د ټينګولو له پاره افغانستان اړ دی چې د ځمکې له لارې سوداګرۍ ته ډېره توجــه وکړي. د چيــن، اروپايي او نــورو هېوادونو سره د ســوداګريزو اړيکو له پاره د ځمکې او بيا په ځانګړي ډول د لاجوردو لاره يو ښــه غوراوی دی. له لرې هېوادونو سره د خپلو اقتصادي ګټو د ســاتلو او اقتصــادي فعاليتونو د زياتېــدو له پاره اړينه ده چې افغانســتان د لاجوردو لارې فعاليــت تــه ډېره توجــه وکــړي، ځکه د افغانســتان د سوداګرۍ له پاره يوه حياتي لاره ګڼل کېدای شي.

د دې له پاره چې افغانســتان د نــړۍ له پرمختللو صنعتي هېوادونــو سره ســوداګريزې اړيکــې ټينګــې کړي او ســوداګري يې له ګاونډيو وراخوا وغوړېــږي، نو ځمکنۍ ترانزيټ کولی شي چې د افغانستان سوداګريزې اړيکې لا ډېرې پراخه کړي.

دلته يوازې د افغانستان له پاره د لاجوردو لارې د اقتصادي ګټو په اړه خبرې کوو:

**۱- د اروپا بازارونو ته اســانه لاسرســی:** افغانستان به د لاجوردو دهليز په برکت د اروپا بازارونو ته اســانه لاسرســی پيداکړي. اوســمهال چې د افغانســتان ډېره سوداګري د پاکســتان د کراچۍ له لارې له اروپا سره ترسره کېږي او پر ډېرو ستونزو سربېره شاوخوا ۲۰ ورځې وخت په کار دی چې افغان توکي اروپا ته ورسېږي، خو د لاجوردو دهليز د پاکستان د کراچۍ په پرتله ډېرې ستونزې نه لري او شاوخوا ۱۶ ورځې وخت نيسي چې د افغانستان توکي اروپا ته ورسېږي.

**۲- ســيمه ييز اتصال:** د لاجوردو دهليز د سيمې هېوادونو ترمنځ د ســيمه ييز اتصال له پاره ډېر مهم دی. د افغانستان اسلامي امارت چې اقتصاد محوره پاليسي يې غوره کړې، په سيمه ييز اتصال ډېر باور لري او د لاجوردو لارې سره کېدای شي چې افغانســتان د سيمه ييز اتصال په پياوړتيا کې مهم رول ولوبوي.

**۳- ســيمه ييزه همکاري او ســياسي اړيکې:** د لاجوردو دهليز سره د سيمه د هېوادونو ترمنځ همکاري زياتېدای شي. دغه همکاري او نږدېوالی په مستقيم ډول د سياسي اړيکو په پياوړتيا کې اغېز لرلی شي.

**۴- د کورني اقتصاد وده:** کله چې د افغانستان توکي (وچه او تازه مېوه، غالۍ او نور) د لاجوردو دهليز په واسطه اروپا ته رسېږي، نو دا د هېواد داخلي توليدات زياتوي چې له امله يې په هېواد کې اقتصادي خوځښت زيات او کرنه او مالداري به ورسره پراختيا ومومي. دغه راز، د افغانستان قيمتي ډبرې او معدنونه هـــم د لاجوردو له لارې نورو هېوادونو ته انتقالېدای شي. په دې ډول به د هېواد کورنی اقتصاد وغوړېږي، کاري فرصتونه به ايجاد او د اقتصادي ښــېرازۍ په لور به ګړندي ګامونه واخلو.

## وړانديزونه

۱- د افغانستان اسلامي امارت دې د لاجوردو دهليز د فعاليت په اړه له ښکېلو هېوادونو سره اړيکو ته دوام ورکړي، څو دا لاره په بشپړ ډول فعاله شي، ځکه د افغانستان د سوداګرۍ له پاره ډېره مهمه لاره ده.

۲- د اسلامــي امارت اړوند وزارتونه او ادارې دې د ښــکېلو هېوادونو له مســوولينو سره د ترانسپورټ، تعرفو، ويزو او نورو ننګونو او ســتونزو په اړه ناستې وکړي او د ستونزو او ننګونو د حل له پاره دې د حللارو موندلو په اړه هڅې روانې وساتي.

۳- که چېرته ټاکل شــوي مقررات او اصول سخت وي، نو د اسلامي امارت مسوولين دې د اسانۍ او اصلاح په موخه له ښکېلو هېوادونو سره خبرې وکړي.

۴- افغانســتان دې په خپله خاوره کې د لاجــوردو دهليز د سړکونو کيفيت ته توجه وکړي، څو د سړکونو ستونزې حل او د ترانسپورټ چټکتيا باوري شي.

## پايله

د لاجــوردو تاريخــي لارې پخــوا هــم د افغانســتان د سوداګريزو اړيکو په پراختيا کې مهم رول لوبولی و او اوس د لاجــوردو دهليز د فعاليت هڅې روانې دي. که ياد دهليز په بشپړ ډول فعال شي، نو د افغانستان د سوداګريزو اړيکو پراختيا او اقتصادي وده کې به مهم رول ولوبوي.

افغانســتان کولی شي چې د سيمه ييز اتصال په برخه کې خپل پخواني حيثيت بېرته ترلاســه کړي او جنوبي اسيا له منځنۍ اســيا او بيا له اروپا سره وصل کړي. د دې له پاره اړينه ده چې د لاجوردو دهليز د بيا فعاليت له پاره چټکې او منظمې هڅې وشي.






# SPEECH OF THE DEPUTY PM FOR ECONOMIC AFFAIRS AT THE 17TH ECO SUMMIT

In the name of Allah, the Most Merciful, the Most Compassionate.
Respected Presidents, Prime Ministers, Ministers, representatives, and officials of the ECO member states; distinguished officials of the host country; honored guests; and all attendees:
Peace, mercy, and blessings of Allah be upon you.
I am pleased to represent the government and people of Afghanistan at the 17th Summit of the Economic Cooperation Organization (ECO).
I sincerely thank the President of Azerbaijan for hosting and excellently organizing this dignified summit.
The 17th ECO Summit is a significant historical moment and a beacon of hope for regional cooperation, mutual understanding, and progress among the nations of the member states.
As a result of the Islamic Emirate of Afghanistan's balanced and economy-centered foreign policy, the Russian Federation has officially recognized it. We warmly welcome this step. Accordingly, in view of Afghanistan's deep and long-term cooperation with ECO, we urge all member states to recognize Afghanistan's legitimate political reality and to take practical and constructive steps toward recognition, as the Russian Federation has done.

**Esteemed Participants,**

After more than four decades of conflict, Afghanistan has now entered a phase of independence, stability, and reconstruction under the Islamic system. In accordance with Islamic principles and Shariah rulings, Afghanistan has made unprecedented progress in unity, nationwide security, institutional strengthening, economic development, and foreign relations.
Today, Afghanistan offers new opportunities for development, cooperation, and regional connectivity based on Islamic values. We seek to realize these opportunities through joint economic, cultural, and strategic projects with ECO member states.
With the re-establishment of the Islamic Emirate, we have assured neighboring, regional, and international countries that Afghan territory will not be used against them.
The Islamic Emirate has completely banned the cultivation, processing, and trafficking of poppies and other narcotics across the country. In addition, thousands of addicts have been treated, and special centers have been established to reintegrate them as healthy and productive members of society.
As an independent nation committed to Islamic and religious values, Afghanistan's foreign policy is based on principles of mutual respect, non-interference, economic development, and balanced engagement. We have opened the door to positive, dignified, and reciprocal cooperation.

**Distinguished Attendees,**

A core element of our foreign policy is its focus on the economy. Thanks to this policy, we have managed to transform Afghanistan's geographical position into a valuable opportunity for regional economic connectivity.
In this context, the railway project named Mazar-e-Sharif–Herat–Kandahar via Uzbekistan is a key initiative that will connect Central Asia to South Asian markets. This project not only strengthens Afghanistan's position in transit but also provides a platform for regional cooperation.
Likewise, practical work on the TAPI project has started on Afghan soil. We are hopeful that upon completion of this major project, Afghanistan will become a vital energy transit corridor between Central and South Asia, playing a pivotal role as a reliable conduit.
From this platform, I call on Turkmenistan, Pakistan, and India to further coordinate efforts regarding this important regional project.
Moreover, the Islamic Emirate of Afghanistan has expressed support for the "North-South Corridor" project. This initiative could mark a new chapter in strengthening and unifying the regional economy.

**Honorable Participants,**

In addition, the Islamic Emirate of Afghanistan, with the support and cooperation of countries along the Lapis Lazuli Route, aims to start using this route effectively for trade and transit.
The Islamic Emirate of Afghanistan requests those countries present here—who are part of the Lapis Lazuli Route and participated in last year's ministerial meeting hosted by Türkiye—to increase their meetings and consultations to address existing challenges and tasks.
Given Afghanistan's geographical position, regional connectivity projects are a government priority. We consider the implementation of such projects as a key driver for shifting regional focus from political rivalries to economic cooperation.

**Esteemed Guests,**

Afghanistan is now utilizing its internal capacities to revive and grow its economy. Therefore, we call on ECO member states to work closely with a stable, reliable, and cooperative Afghanistan to strengthen economic and regional cooperation. We seek a continued atmosphere of progress and coordination in trade, investment, energy, transportation, agriculture, environmental protection, and climate change—key objectives of this summit.
Through expanded relations with various

regional countries, the Islamic Emirate has proven both the willingness and the capacity for engagement. We are committed to relations based on mutual respect, practical cooperation, and shared interests.
Therefore, once again, we call on the international community, especially ECO member states, to engage with the Government of Afghanistan from a realistic perspective, to increase political and economic engagement, and to move beyond obstacles to establish constructive relations.

**Dear Participants,**

The Islamic Emirate pursues an economy -focused policy framework to ensure economic independence and stability through relations with neighboring, regional, and global countries. We are striving to shift Afghanistan from a consumption-based economy to a productive, transit-oriented, and self-reliant economy. We believe that ECO member countries' economies can thrive only when Afghanistan is an active part of this equation.
We believe that the mutual understanding of ECO member states, the start and continuation of economic cooperation, and a strong spirit of human partnership can lead the region toward progress and development.
I must state that Afghanistan now provides a favorable environment for investment. Currently, both domestic and foreign investors have invested in sectors including electricity, mining, agriculture, industry, transportation, infrastructure, telecommunications, healthcare, and many others. Therefore, I call on ECO member states to invest in these mentioned sectors.



**Respected Attendees,**

In the past, Afghanistan, as an important member of ECO, has played an active and effective role in many key programs—particularly in tax cooperation, meetings of heads of tax administrations, technical programs, and information sharing.
Past experience has shown that collaboration within the ECO framework can provide a solid foundation for trade expansion, improvement and strengthening of tax systems, and enhanced economic coordination among countries.
The Islamic Emirate of Afghanistan once again expresses its deep sympathy with the oppressed people of Palestine. The oppression against the innocent people of Gaza must end immediately. We fully support the cause of Palestinian liberation, the establishment of an independent state, and the protection of the Islamic identity of Al-Quds.
As the representative of the Islamic Emirate of Afghanistan and a member state of the Economic Cooperation Organization, I would like to share our proposal with you. Afghanistan is committed to achieving the objectives set by the ECO based on regional cooperation and joint efforts.
In this regard, we propose that the upcoming 18th ECO Summit be held in Kabul. We are fully prepared to host this significant and valuable event and warmly welcome the participation of all member states.
We believe that this summit will not only strengthen our mutual understanding, coordination, and shared goals, but the presence of ECO leaders in Kabul will also mark the beginning of a new chapter in joint cooperation for regional stability, development, and connectivity.
In conclusion, once again I sincerely thank the host country, Azerbaijan, for its hospitality, the ECO member states for their active participation, and all of you for your time and attention.

**Peace, mercy, and blessings of Allah be upon you.**

# د بهرنیو اسعارو بیې

د کابـــل په شهزاده سـرای کې د افغانۍ
پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ١ | امریکایي ډالر | ٦٨,٥٥؋ | ٦٨,٦٠؋ |
| ١٠٠٠ | پاکستانی کلدارې | ٢٣٢؋ | ٢٣٢؋ |
| ١٠٠٠ | ایراني تومن | ٠,٧٦؋ | ٠,٧٧؋ |
| ١ | اروپایي یورو | ٨٠,٣٣؋ | ٨٠,٣٩؋ |
| ١ | روسي روبل | ٠,٨٧؋ | ٠,٨٧؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ١٠٠٠ | هندی کلدارې | ٧٩٨؋ | ٧٩٨؋ |
| ١ | انگلیسي پونډ | ٩٣,٣٣؋ | ٩٣,٤٠؋ |
| ١ | سعودي ریال | ١٨,٢٨؋ | ١٨,٢٩؋ |
| ١ | اماراتي درهم | ١٨,٦٦؋ | ١٨,٦٨؋ |
| ١ | چیني ین | ٩,٥٧؋ | ٩,٥٧؋ |